مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۱/۰۶/۰۸

# د هیلو ځرک

ناهیلي ګوره نشـــۍ، امیــدونه دي په مخ کې
منزل و رسیدو ته، زحــمتونه دي، په مــخ کې

د سوکالی دي ښــکلي ورځې، زمونږ په انتظار
غوړولي په دي لاره، ګلــونه دي په مــخ کې

هغوي ته چې کرکې او نفـرتونه زړو کې پالي
د میني محـــبت هم، پیـــغامونه دي په مخ کی

منم چې دا مزل به، په ســـکروټو په اغزو وي
په نصیـــب مو له ازله، بهارونه دي په مخ کی

په متین عزم اوچت کړئ، په همت خپل قدمونه
چې دلته هر قـــدم کې، رباټـونه دي په مخ کی

د کرکي نفـــــــرتونو، دا تیارې به هم رڼا شـــي
له هرې تیارې شـــا ته، سهارونه دي په مخ کی

زمان د روڼ سهار زیری، په بار باری رالیږي
تکړه شئ چې د هیـــلو، کاروانونه دي په مخ کی

خوشحـــالیو کاروانو ته، لږ پاتـــي واټـــــــنونه
د خوښیو مو قسمت کې، اخترونه دي په مخ کی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ